**د محاسبي متحدالمال لیک ۰۲/ ۹۲**

**عنوان :لومړني پانګه او د راپور ورکولو شپږ نوي فورمي**

**د لړم اتلسمه د ۱۳۹۲ یم لمریز کال (۹ د نومبر۲۰۱۳م زیږدیز کال)**

**د بهر ني هیوادونو د جواز لرونکي بانکي څانګي عمومی مدیرانو ته (                    )**

په تعقیب د تیرو مکتوبونو شمیرو ۳۳۷/۲۹۹ تاریخ ۱۳۹۲/۰۱/۲۱ او شمیرو ۱۷۷۳/۱۹۲۵ ، ۱۷۷۳/۱۹۲۶ ، ۱۷۷۳/۱۹۲۷ او ۱۷۷۳/۱۹۲۸ نیټه ۱۳۹۲/۰۵/۰۷ د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي د لومړنی پانګي عوایدو د برقرار ساتني ، د اسعارو د پرانستی حالت او د نغدوالي محاسبه او د ټاکل شویو نسبتونو په هکله تاسي ته خبر درکول کیږي:

چه د افغانستان بانک د عالی شورا هغه پریکړی له مخی چی په ۱۳۹۱/۱۲/۲۹ نیټي تر سره شوی وه د ټولو خارجی بانکونو څانګی د لومړنی پانګي عوایدو د برقرار ساتني په موخه لاندی موارد تصویب او د تطبیق وړ دی:

- د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي باید لږ تر لږه یو ملیارد افغاني لومړنی پانګه ولری.
- د نغدو پیسو موجود والي باید د مقرراتو په حدودو کی وساتي.
- خارجی اسعارو ساتنه د بهرني اسعار د مقرری سره سم.

له دي کبله د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي مکلفي دي چه خپله لومړنی پانګه (Common Stock or Paid Up Capital) په افغانیو ولری. د افغانستان بانک د عالی شورا د پورتني پریکړی له مخی له دي نه وروسته د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي باید د کیمل (CAMELS) سیستم پر اساس درجه ورکړل شي.

نوی فورمي د محاسبي متحدالمال لیک ۰۱/ ۹۲ نیټي د غبرګولی په ۲۸ تمه د ۱۳۹۲ یم لمریز کال تاسو ته معرفی شوي دي د یادوني وړ ده چي د بانکونو د راپور ورکوني بڼری او مکلفیت هم تغیر خورلی چه په لاندي ډول دي:

- بیلانس شیټ یولاسي،
- د ګټي او زیان حساب میاشتي،
- د قانوني پانګي پانه،
- د اسعارو پرانستی حالت،
- نغد والي نسبت، او
- د سود د نرخ انګیرنه.

څرنګه چې د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي د افغانستان بانک ته په میاشتنی او دری (۳) میاشتنی دول راپور ورکولو مکلف دی دغه پورتني شپږ نوي فورمي د لومړي ځل لپاره باید د ۲۰۱۴ د جنوری میاشتي تر لسمي (۱۰) نیټي د ۲۰۱۳م زیږدیز کال د ۳۱ دسمبر د میاشي د راپورونو پر اساس چې د۱۳۹۲یم لمریز کال د جدی د لسمی (۱۰) نیټي سره سمون خوري د مالي چارو د څیړني د آمریت اړوند د محاسبي او راپور ورکولو مدیریت ته وسپاري.

د آزادو بهرنیو اسعارو د وضعیت په اړه چې کوم حدود ټاکل شوي د بهرنیو هیوادونو جواز لرونکي څانګي یې باید لسم (۱۰) نیټي د جنوری ۲۰۱۴ زیږدیز کال د ۳۱ دسمبر د میاشي د راپورونو پر اساس چې د۱۳۹۲یم لمریز کال د جدی د لسمي (۱۰) نیټي سره سمون خوري د مالي چارو د څیړني د آمریت اړوند د محاسبي او راپور ورکولو مدیریت ته وسپاري.

په هیواد کي ټولو بهرنیو بانکونو څانګو ته لاربښونه کیږي تر څو نوي مسولیتونه په ټاکلي وخت سره سرته ورسوي . د سر غړونی په صورت کی به د بانکي قوانینو له مخي ورسره سخت چلند وشي.

ستاسي د لا زیاتو معلوماتو لپاره جدولونه او لاربښوونی تاسي ته درلیږل شویدي او همدارنګه تاسي کولای شي چې فورمي او لاربښووني د افغانستان بانک د ویبپاڼی( www.centralbank.gov.af) څخه هم تر لاسه کړئ.

که په دغه اړوند تاسي کومه پوښتنه لری مهرباني وکړئ د مالي چارو د څیړني د آمریت اړوند د محاسبي او راپور ورکولو د څانګي مدیر محترم ناصر خان غازی سره د لاندي ګرځنده شمیرو او بریښنا لیک له لارې اړیکه ونیسئ .

شمیرې : ۰۷۹۹۴۱۰۰۷۵ یا هم ۰۲۰۲۱۰۵۱۳۰ بریښنا لیک:
nasir.ghazi@centralbank.gov.af

په درنښت

18-8-92

خان افضل "هډه وال"
د افغانستان بانک لمړی مرستیال

18-8-92


Address: Financial Supervision Department
Da Afghanistan Bank (Central Bank of Afghanistan)
Ibn-e-Sina Watt, Kabul/Afghanistan
Phone #: +93 (20) 210 2206
ویب سایت: Website: www.centralbank.gov.af
www.centralbank.gov.af

آمریت عمومی نظارت امور مالی
د افغانستان بانک (بانک مرکزی افغانستان)
ابن سینا وات، کابل/افغانستان
شمارهٔ تماس: 2206 210 (20) 93+